# مسیر

ورځپاڼه

نوی لید، نوی مزل

www.maseerdaily.af

یکشنبه د ۱۳۹۸ د سنبلې درېیمه | د ۲۰۱۹ د اګسټ ۲۵مه | ۴۱۹مه ګڼه


# سوله او ټاکنې؛

## امریکا وايي: افغانستان کې سوله تر ټاکنو ورته مهمه ده



۳

### انتقالي حکومت؛ اوازې او حقیقت

۲ مخ

### کمک‌های بانک انکشاف آسیایی به افغانستان

۲ مخ

### د سولې په درشل کې ولې د ملکي وګړو مرګ ژوبله زیاته شوې؟

۳ مخ

## کندوزیان: د ولایت په ملکي روغتون کې له تېرو اتو میاشتو راهیسې درمل خلاص شوي

د کندوز اوسېدونکي او د ولایتي شورا غړي وايي چې له تېرو اتو میاشتو راهیسې په حوزوي روغتون کې درمل خلاص شوي او ناروغان اړ دي چې درمل له شخصي درملتونونو وپېري.

خو بل لور ته د کندوز حوزوي روغتون مسوولین بیا وايي چې د دوی ځینې لومړني درمل خلاص شوي او تر اوسه یې قرارداد هم نه دی لاسلیک شوی. د دغه ولایت په حوزوي روغتون کې یوه ناروغ لرونکي عبدالمومن رسنیو ته ویلي، ډاکترانو ورته ویلي چې له بهره درمل وپېري، خو دی یې د پېرلو لپاره پیسې نه لري.

هغه زیاته کړې: ((زه د بدخشان له کشم څخه راغلی یم، پیسې نه لرم غریب سړی یم، هر څه را باندې له بهر څخه اخلي».

دغه راز یو بل ناروغ لرونکي بسم الله هم ویلي چې له تېرو څو ورځو راهیسې یې خپل ناروغ حوزوي روغتون ته راوړی او هر ډول درمل له بهره په پیسو پېري.

ده ویلي: ((زه له امام صاحب ولسوالۍ څخه راغلی یم، هسې چټې خلک زحمت وباسي، په دولتي روغتون کې درمل نشته دي، له دې ډېر ښه دی چې خپل مریضان شخصي کلینیکونو ته بوځو.» دغه راز د کندوز ولایتي شورا رییس یوسف ایوبي پژواک ته ویلي چې له تېرو اتو میاشتو راهیسې د دغه ولایت په حوزوي روغتون کې درمل خلاص شوي دي.

هغه ویلي: «هره ورځ په دې برخه کې خلک موږ ته شکایتونه کوي، موږ دغه مسئله له اړوندو چارواکو سره شریکه کړې ده، خو د حل لپاره یې تر اوسه اقدام نه دی شوی».

## داعش ډله په شمال کې د خپلو فعالیتونو د پراخولو هڅه کوي



۵ مخ


## پوهنتون

۴ مخ


## سلطان محمود غزنوي د لوړو زده کړو خصوصي موسسه

په دې موسسه کې د تدریس چارې د لږ تر لږه ۵۸ استادانو لخوا مخ ته وړل کېږي، چې له ډلې یې ۱۵ ښځینه استادانې دي.




## د کانونو د استخراج پنځه لویې پروژې داوطلبۍ ته وړاندې کېږي




د هرات د سیمنټو، د بغلان د غوري سیمنټو د درېیمې فابریکې د جوړېدو، د غزني د زرکشانو د سرو زرو، د ننګرهار د شوکانو او په تخار کې د نورابه او سمتي د سرو زرو کان پروژې داوطلبۍ ته وړاندې کېږي.

د کانونو او پټرولیم وزارت ویاند عبدالقدیر مطفي د دغه مطلب تر څنګ، پژواک خبري اژانس ته ویلي: «موږ ویاړو چې د هېواد د کانونو سکتور په برخه کې مو خصوصي سکتور ته د پانګونې فرصت رامنځته کړی دی».

هغه زیاته کړې: «دا همدغه پروژې دي چې مخکې د کانونو او پټرولیم وزارت لخوا د دوبۍ په نړیوال کنفرانس کې اعلان شوې و، چې موږ یادې پروژې اعلان ته سپارو».

د مطفي په خبره، ټاکل شوې چې د هرات د سیمنټو په تولید او دغه راز د سیمنټ غوري د درېیمې فابریکې جوړېدلو په برخه کې په ټولیز ډول ۳۰۰ میلیونه امریکایي ډالره پانګونه وشي.

## امریکا و طالبان روی خروج کامل نیروهای خارجی توافق کرده‌اند



منابع آگاه از گفت‌وگوهای نهمین دور ایالات متحدهٔ امریکا و طالبان می‌گویند که دوطرف دربارهٔ خروج کامل نیروهای خارجی از افغانستان و نیز تضمین طالبان دربارهٔ قطع روابط با گروه‌های تروریستی توافق کرده‌اند.

به گفتهٔ این منابع، طالبان و امریکا توافق کرده‌اند که تمامی نیروهای خارجی، در مدت پانزده تا بیست ماه از افغانستان خارج شوند. دور نهمین گفت‌وگوهای میان نماینده‌گان امریکا و طالبان، روز پنج‌شنبه (۳۱ اسد) در دوحه آغاز شدند.

فیض محمد ځلاند، استاد پوهنتون گفت: «قرار است توافق صلح تا سه روز دیگر به میان بیاید و دربارهٔ خروج نیروهای خارجی هردو طرف به توافق رسیده‌اند».

این در حالی است که دیروز، الجزیره در گزارشی گفت که طالبان و امریکا روی ایجاد حکومت موقت در افغانستان توافق کرده‌اند، اما سهیل شاهین از سخن‌گویان طالبان این گزارش را رد کرده‌است.

قرار است پس از امضای تفاهم‌نامه میان امریکا و طالبان، گفت‌وگوهای میان افغانان در اوسلو آغاز شوند. حکومت افغانستان در حدود یک ماه پیش هیئت پانزده نفری برای گفت‌وگوهای اسلو را مشخص ساخت.

اکنون، وزارت دولت در امور صلح می گوید که رأی‌زنی‌ها دربارهٔ اولویت بندی موضوعاتی که باید این هیئت در گفت‌وگوهای میان افغانان به بحث بگیرد، ادامه دارند. ناجیه انوری، سخن‌گوی وزارت دولت در امور صلح بیان داشت: «ما از تمام امکانات و فرصت‌ها استفاده می کنیم و تلاش می کنیم تا این تیم به یک همکاری و انسجام خوب به مذاکراتی که بین دولت افغانستان و طالبان است، حضور پیدا بکند».


if You Can Think It, We Can ink it.

غوره کیفیت او چټک خدمات
په وایګل چاپ کې تجربه کړئ!

WAYGAL Printing Co.
وایګل چاپ

+93 (0) 77 55 22 677, +93 (0) 782 98 9696
+93 (0) 202512626
Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul
waygalprinting.co@gmail.com

## دریـځ

# انتقالي حکومت؛ اوازې او حقیقت

پرون الجزیزې تلوېزیون د خپلو سرچینو په حواله خبر ورکړ چې په قطر کې طالب او امریکایي استازو پر ۱۴ میاشتني انتقالي حکومت هوکړه کړې ده. الجزیزې د خپلو سرچینو په حواله زیاته کړې وه چې اوس طالبان او امریکا د دغه حکومت د تمویل پر لارو چارو بحث کوي، خو طالبان له دې سره مخالف دي چې دا حکومت دې د امریکا په مرستو وچلېږي. وروسته د طالبانو د قطر دفتر ویاند سهیل شاهین دا خبر رد کړ او اوازه یې وگڼله.

پوښتنه دا ده چې رښتیا موقت یا انتقالي حکومت د خبرو برخه دی او د دې ځومره شونتیا شته چې پر انتقالي حکومت دې هوکړه وشي؟

الجزیره تلوېزیون په دوحه کې دی، د طالبانو او امریکا خبرې هم په دوحه کې رواني دي. کله چې الجزیره خبر ورکوي، اټکل کېدلی شي چې سرچینې به یې لوړپوړي قطري چارواکي وي او خبر به د دې لپاره ورکوي چې الجزیره لومړنی خبر خپور کړي. قطري چارواکي او د الجزیرې مشران به د سولې د خبرو په اړه داسې څه نه خپروي چې د دوی تصویر ته زیان ورسوي. د الجزیرې له خوا د دغه خبر خپرول او ځینې نور معلومات هم ښیي چې موقت یا انتقالي حکومت د طالبانو او امریکا ترمنځ د خبرو برخه دی او په دې اړه جدي بحثونه شوي دي.

اوښ ښایي پوښتنه دا وي چې طالبان او امریکا ولې دا خبر ردوي؟

طالبانو ویلي چې له امریکا سره پر هغو مسایلو خبرې کوي چې په امریکا پورې اړه لري او د افغانستان پر کورنیو چارو له امریکا سره خبرې نه کوي. دا د طالبانو رسمي دریځ دی، خو واقعیت دا دی چې دوی له امریکا سره پر ډېرو افغاني مسایلو هم خبرې کوي. اوس چې طالبان له امریکا سره پر موقت حکومت خبرې او توافق ردوي، لامل یې هم دا دی چې دا چاره د دوی له دریځ سره ټکر لري. له بله اړخه امریکا هم نه غواړي خلکو ته وښیي چې دوی د افغانستان په اړه پرېکړې کوي. له بله اړخه خبرې تر اوسه داسې رواني دي چې دواړه اړخونه معلومات پټ ساتي. له همدې امله د طالبانو او امریکا ترمنځ پر موقت یا انتقالي حکومت له خبرو سره سره دواړه اړخونه دا خبر ردوي.

د سولې لپاره د موقت یا انتقالي حکومت اړتیا هم شته. کله چې د طالبانو او امریکا ترمنځ هوکړه وشي، طالبان به بین الافغاني خبرې پیلوي. که په بین الافغاني خبرو کې توافقات کېږي، نو دا به څوک عملي کوي!؟ د اشرف غني تر مشرۍ لاندې حکومت طالبانو ته د منلو نه دی او آن د حکومت په توگه ورسره خبرې نه کوي. دغه راز د غني حکومت د سولې خلاف دریځ لري او باور پرې نه شي کېدای. له بله اړخه د توافقاتو د عملي کولو، د اساسي قانون لپاره د ټولپوښتنې یا لویې جرگې او دغه راز د ډېرو نورو چارو لپاره د یو لنډمهالي حکومت اړتیا ده. سوله او بیا د یوه داسې حکومت لور ته تگ چې ټول اړخونه پرې توافق وکړي، له موقت یا انتقالي حکومت پرته ناشوني دي. البته د انتقالي یا موقت حکومت مانا دا نه ده چې نظام به ړنگېږي او هر څه به له سره جوړېږي، بلکې مانا یې دا ده چې د حکومت مشران، وزیران، والیان او نور لوړپوړي چارواکي به گوښه کېږي او پر ځای به یې ناپېیلي او یا داسې کسان راځي چې د طالبانو په گډون، د ټولو اړخونو لپاره د منلو وړ وي.

همدغو اړتیاوو ته په کتو سره موقت یا انتقالي حکومت یو جدي بحث دی، خبرې پرې رواني دي او باید خبرې پرې وشي، څو د سولې د توافقاتو د عملي کولو او یو دایمي او پیاوړي نظام، امن او سولې ته لاره هواره کړي.

# کمک‌های بانک انکشاف آسیایی به افغانستان

بانک انکشاف آسیایی با آهنگ ثابت و پایدار، همکاری‌های خود را در راستای ارائه کمک‌های مالی به کشورهای رو به انکشاف در منطقه آسیا – اقیانوس آرام افزایش داده و جمهوری اسلامی افغانستان را منحیث یکی از شرکای کلیدی خود میداند.

این بانک در چهارچوب نهادهای بین المللی مالی، تأمین کننده اصلی کمک‌های بلاعوض (Grant) و اعتبارات برای افغانستان میباشد. این کشور با سهم ٪ ۰.۰۳۴ در سرمایه بانک، از سال ۱۹٦٦ میلادی یکی از قدیمترین اعضای آن میباشد و ۴۸.۱۹ میلیون دالر امریکایی مبلغ عمومی تعهد شده از طرف افغانستان را تشکیل میدهد که ٦.۴۳ میلیون آن پرداخت گردیده است.

اما، این همکاری‌ها برای یک مدت از سال ۱۹۸۰ – ۲۰۰۱ میلادی متوقف گردیده بودند.

۵.٦ میلیارد دالر امریکایی حجم مجموعی منابع پولی را تشکیل میدهد که بانک انکشاف آسیایی در چهارچوب اعتبارات، اعانه‌های نقدی یکباره (Grant) و کمک‌های تخنیکی در اختیار افغانستان قرار داده است.

بانک انکشاف آسیایی طی سال های ۲۰۰۱-۲۰۱۸ میلادی، ۱٦۹ پروژه را در افغانستان تمویل نموده است، از آن جمله ۴۵ پروژه به مبلغ ۲٦۷۱.۴ میلیون دالر در بخش ترانسپورت، ۴۱ پروژه به مبلغ ۱۸۵۹.۵ میلیون دالر در عرصه انرژی، ۵۱ پروژه به مبلغ ۷۳۸.٦ میلیون دالر در بخش زراعت، منابع طبیعی و انکشاف دهات، ۱۵ پروژه به مبلغ ۷۸.۲ میلیون دالر در عرصه دولت داری، ۵ پروژه مالی به مبلغ ٦۷.٦ میلیون دالر، یک پروژه در بخش زیرساخت‌های شهری به مبلغ ۱۵ میلیون دالر، ۵ پروژه به مبلغ ۸.۱ میلیون دالر در عرصه صنعت و تجارت، ۲ پروژه به مبلغ ۴.۱ میلیون دالر در بخش تحصیلات، ۱ پروژه به مبلغ ۳ میلیون در عرصه صحت و ۳ پروژه به مبلغ ۱۸۳.۳ میلیون در سایر سکتور ها.

از سال ۲۰۰۱ میلادی به اینطرف، ۱۷ پروژه به مبلغ ۲.۲ میلیارد دالر در عرصه احداث و عصری سازی ۱۷۰۰ کیلومتر سرک موتر رو توسط بانک انکشاف آسیایی تمویل گردیده است که از این مبلغ ۸۰۸ میلیون آن در ساختمان ۵۰۷ کیلومتر سرک در چهارچوب برنامه سرمایه گذاری برای توسعه سیستم ترانسپورت در افغانستان به مصرف رسیده است، چهار میدان هوایی بازسازی گردیده ، اداره خط آهن کشور تأسیس، اولین خط آهن بین ازبکستان و افغانستان در مسیر ترمز – مزارشریف احداث و سروی تخنیکی و اقتصادی ۸۱۳ کیلومتر خط آهن که ترکمنستان را از طریق افغانستان با ازبکستان وصل میکند، تهیه گردیده است.

در بخش انرژی، بانک انکشاف آسیایی احداث ۱۵۰۰ کیلومتر خط انتقال برق، ساختمان ۱٦ باب سب ستیشن، ۱۴۳ هزار شبکه‌های توزیع و همچنان طرح و دیزاین ۱۰ حلقه چاه های گاز را تمویل نموده که این پروژه‌ها بر زندگی بیشتر از ۵ میلیون افغان در سراسر کشور تأثیر مثبت گذاشته است.

۴۴.۷٦ میلیون دالر در سال ۲۰۱۷ میلادی برای ساختمان اولین ستیشن برق گازی – آفتابی با ظرفیت ۲۰ میگاوات اختصاص داده شده است.

طی سال های ۲۰۱۸- ۲۰۲۴ میلادی، تخصیص ٦۰۰ میلیون دالر برای حمایت از زیربناهای سکتور انرژی در افغانستان برنامه ریزی گردیده است، از جمله ۱۴۳.۲ میلیون آن برای انکشاف خطوط انتقال برق در ولایت های کنر و پکتیکا قبلاً در سال ۲۰۱۸ میلادی پرداخت گردیده است.

تقریباً ٦۵۰ میلیون دالر برای انکشاف زیر ساخت‌های آبیاری و زراعت تخصیص داده شده بود. در حدود ۳۵۰ هزار هکتار زمین قابل آبیاری احیاء گردیده و کار روی ۲۵۰ هزار هکتار دیگر جریان دارد.

پلان عمومی توسعه سکتور ترانسپورت افغانستان الی سال ۲۰۳٦ میلادی و سروی تونل جدید سالنگ از لحاظ تخنیکی و اقتصادی از منابع بانک انکشاف آسیایی تهیه گردیده است.

کار بازسازی ۲۳۲ کیلومتر سرک موتر رو حلقوی داخلی جریان دارد.

علاوه بر آن، بانک انکشاف آسیایی در تحقق چنین پروژه‌های بزرگ منطقوی چون( TAPI, CASA-۱۰۰۰, TAP) و دهلیز خط آهن بین پنج کشور چین، قرغزستان، تاجکستان، افغانستان و ایران سهم فعال دارد.

با وجود تشریک مساعی قابل ملاحظه بین بانک انکشاف آسیایی و افغانستان و موجودیت نتایج، افغانستان مانند گذشته به زیر ساخت‌ها در بخش‌های انرژی، صنعت، ترانسپورت و زراعت اشد ضرورت دارد. در عین زمان، همکاران غربی توقع دارند که حکومت جدید افغانستان تلاش‌ها خود را برای بیرون کردن کشور از وضعیت رکود اجتماعی – اقتصادی افزایش داده و تشریک مساعی با نهاد های مالی بین المللی و کشورهای کمک کننده را توسعه خواهد بخشید.

# د جي- ۷ په سرمشریزه کې د ایران پر اټومي پروگرام او د کشمیر پر لانجې هم بحث کېږي




د نړۍ د اوو سترو صنعتي هېوادونو په سرمشریزه کې به د نورو موضوعاتو ترڅنگ، د ایران پر اټومي پروگرام او په کشمیر کې پر روانه لانجه هم خبرې وشي.

د نړۍ د اوو سترو صنعتي هېوادونو یا (G-۷) د دغې دوې ورځنۍ سرمشریزې کوربه د فرانسې ولسمشر امانویل مکرون دی.

په دې سرمشریزه کې د نړۍ د نورو مشرانو ترڅنگ، د امریکا د متحده ایالتونو ولسمشر ډونالډ ټرمپ او د برېټانیا نوی لومړی وزیر بوریس جانسن هم گډون کوي.

ولسمشر ټرمپ له واشنگټن څخه یادې سرمشریزې ته د روانېدو پر مهال خبریالانو ته ویلي، چې تمه لري د جي اووه ډلې له غړو سره به یې خبرې ډېرې گټورې وي.

په دې سرمشریزه کې چې د فرانسې په بیاریخ کې کېږي، د جي اووه د نورو غړو جرمني، کانادا، ایټالیا او جاپان تر څنگ، د هند لومړی وزیر نرېندرا مودي هم د مېلمه په توگه گډون وکړي.

ویل شوي چې مودي به د کشمیر پر لانجې د بحث لپاره په انفرادي ډول د نړۍ له ځینو مشرانو سره وگوري.

د سرمشریزې په درشل کې د فرانسې ولسمشر ایمانویل مکرون د هند لومړي وزیر نرېندرا مودي ته ویلي، چې پاریس په کشمیر کې روان وضعیت له نږدې ځاري.

مکرون دا څرگندونې د تېرې پنجشنبې په ورځ وروسته له هغې کړې، چې له پاریسه بهر یې په شانتیلي سیمه کې له مودي سره ناسته درلوده.

دا په داسې حال کې ده چې د هند تر ولکې لاندې کشمیر کې وروسته له هغې کړکېچ زیات شو، چې نوي ډیلي د اگست په پنځمه له جمو کشمیر څخه د کورواکۍ ځانگړی موقف واخیست او دې سیمې ته یې اضافي امنیتي ځواکونه واستول.

دغه راز به په دې سرمشریزه کې د نورو مهمو نړیوالو مسئلو ترڅنگ، د ایران د اټومي پروگرام لانجمنه موضوع هم مطرح شي.

دا په داسې حال کې ده چې واشنگټن هڅه کوي څو پر اروپایي متحدانو فشار راولي چې د بندیزونو او نورو اقداماتو په مرسته، پر ایران تر ټولو زیات فشار راوستلو کې همکاري وکړي، څو په دې ډول ایران پر خپل لانجمن اټومي پروگرام مذاکرو ته مجبور شي.

بلخوا په فرانسه کې د برېټانیا یوې ډیپلوماټیکې سرچینې رویټرز اژانس ته ویلي چې دوی له ایران سره د ۲۰۱۵ ز کال د شوي اټومي تړون سخت ملاتړي دي.

له دغه تړونه د امریکا ولسمشر ډونالډ ټرمپ د ۲۰۱۸ ز کال په مې میاشت کې د وتلو اعلان وکړ او ادعا یې کړې چې د تړون شرایط په کافي اندازه سخت نه وو.

دغې سرچینې له رویټرز اژانس سره په خپلو خبرو کې ویلي: «دا ډېره مهمه ده چې ایران اټومي وسلې ترلاسه نه کړي».

# سرچینې: طالب او امریکایي مرکچي پلاوي تر بل هر وخت هوکړې ته نږدې شوي دي


پـه قطر کې د افغان سولې په تړاو مذاکره کوونکو ویلي، په اکثرو مواردو کې موافقې ته رسېدلي دي.

دا په داسې حال کې ده چې په دوحه کې د امریکا او طالبانو د سیاسي استازو ترمنځ، د خبرو د نهم پړاو دویم دور ورمه ورځ پیل شو.

په دوحه کې د امریکا غږ راډیو خبریال ایوب خاورین ازادي راډیو ته ویلي چې یادې خبرې په گروپي ډول وې.

په دې خبرو کې دواړو ښکېلو خواوو ویلي چې عمومي غونډه نه ده شوې او پر جزیاتو د خبرو لپاره ډلې ډلې بحثونه شوي دي.





نوموړي په دوحه کې د خبرو دواړو خواوو ته د سرچینو په حواله ازادي راډیو ته ویلي، چې د سولې د هوکړې تر لاسلیکه ښایي ډېر وخت نه وي پاتې.

هغه دغه راز ویلي: «ما له دواړو خواوو دا واورېدل چې په اکثرو مواردو موافقه شوې او د سولې تفاهم ښایي په نورو دوو یا دریو غونډو کې لاسلیک شي. دوې یا درې غونډې په یوه ورځ کې کېدای شي وشي، کېدای شي په دوو ورځو کې وشي، نو دا د راتلونکو یوې یا دوو ورځو خبره ده، خو ماته دواړو خواوو ویل چې ضروري نه ده چې موافقه دلته اعلان شي، کېدای شي چې په کابل کې اعلان شي، کېدای شي چې په واشنگټن کې یا په بل ځای کې، مثلاً ناروې کې اعلان شي چې ویل کېږي د بین‌الافغاني خبرو کوربه‌توب به کوي».

سرچینو ویلي چې د افغان سولې لپاره د امریکا خاص استازی زلمی خلیلزاد به له دوحې کابل ته ولاړ شي.

د نړیوالو خبري اژانسونو په حواله، د امریکا متحده ایالات غواړي چې د سپټمبر تر لومړۍ نېټې د سولې یوه موافقه لاسلیک شي.

که داسې وشي، نو دا به د افغانستان د جمهوري ریاست تر ټاکنو چې د سپټمبر د ۲۸مې لپاره پلان شوې دي، مخکې وي.

# د سولې په درشل کې ولې د ملکي وګړو مرګ ژوبله زیاته شوې؟

ليکنه: د ستراتېژيکو او سيمه ييزو څېړنو مرکز

یوناما یا په افغانستان کې د ملګرو ملتونو سیاسي استازولۍ په خپل نوي راپور کې، تېره جولای میاشت ملکي وګړو ته د مرګ ژوبلې اړولو خونړۍ میاشت یاده کړې چې په خبره یې شاوخوا ۱۵۰۰ ملکي وګړو ته پکې مرګ ژوبله اوښتې. که له یوې خوا د سولې په هکله خبرې اترې یو هیله بخښونکي پړاو ته رسېدلې، خو په ورته وخت کې په هېواد کې جګړې لاپسې زور اخیستی او د ملکي وګړو مرګ ژوبلې کچه یې هم خورا لوړه کړې ده. دا چې د سولې په دې هیله بخښونکي پړاو کې ولې ملکي مرګ ژوبله زیاته شوې؟ په نړیوالو، سیمه ییزو او کورنیو لاملونو یې په دې تحلیل کې شننه شوې ده.

**نوې جګړه ییز تاوتریخوالي ته لنډه کتنه**

دا چې د افغان سولې په اړه د طالب مشرانو او امریکایي چارواکو ترمنځ تر ناستو او غونډو وروسته، هیله بخښونکي او د ښو پرمختګونو په اړه راپورونه مخې ته راځي، خو بلخوا په ورته وخت کې د جګړې په ډګر کې تاوتریخوالي هم زور اخیستی. د یوناما د نوي راپور پر بنسټ، د ۲۰۱۹ میلادي کال لومړۍ نیمایي دویمه ربع کې د اولې هغې په پرتله د تاوتریخوالي په برخه کې د ملکي وګړو مرګ ژوبله ۲۷ سلنه زیاته شوې ده. د یاد راپور پر بنسټ، د ۲۰۱۹ میلادي کال په لومړۍ نیمایي کې شاوخوا ۳۸۱۲ ملکي وګړو ته مرګ ژوبله اوښتې، چې له دې جملې څخه د طالبانو په پرتله حکومت پلوه ځواکونو ډېره مرګ ژوبله اړولې ده.

**د ملکي مرګ ژوبلې بیروني لاملونه**

د افغان سولې په برخه کې د پخوا په پرتله اوس د سیمه ییزو او نړیوالو قدرتونو ګټې ډېرې څرګندې شوې او هر هغه هېواد چې د افغان سولې په برخه کې د خپلو سیمه ییزو او نړیوالو سیالانو په پرتله ځان منزوي وګوري، په افغان سوله کې د نه همکارۍ ګواښونه کوي او بلخوا غواړي خپلې سیمه ییزې ستونزې له افغان سولې سره غوټه کړي، څو خپلې ستونزې د افغان سولې په بدله کې هوارې کړي. د بېلګې په توګه، امریکا د کشمیر په مسئله کې د هند او پاکستان ترمنځ درېیمګړیتوب ته په دې توګه لیوالتیا وښووده، چې پاکستان به د افغان سولې علاوه د امریکایي ځواکونو وتلو کې له یاد هېواد سره مرسته کوي او همدارنګه امریکا ته د پاکستاني لوري د وروستي سفر اجنډا مهم اړخ چې په افغان سوله کې همکاري یادېدله، په دې شرط وه چې ګواکې یاد هېواد به د کشمیر په مسئله کې د امریکا پاملرنه او مرسته راجلب کړي. که څه هم په لومړیو کې ولسمشر ډونالډ ټرمپ په ښکاره توګه د کشمیر په مسئله کې له پاکستان سره د مرستې ټېر وواهه، چې په دې اړه هند نه یوازې خپل پراخ غبرګون وښود، بلکې ولیدل شول چې هند لوري ته د کشمیر په اړه یې وروستۍ پرېکړې وکړې او پاکستان هم یادې پرېکړې د افغان سولې له موضوع سره تړلې وبللې او په افغان سوله کې یې د نه همکارۍ ګواښونه وکړل. په دې توګه یو ځل بیا افغان سوله د نړیوالو او سیمه ییزو سیالیو ښکار شوه او په افغانستان کې یې پراخ تاوتریخوالي ته لاره هواره کړه، چې په پایله کې ملکي مرګ ژوبله هم ورسره لوړې کچې ته ورسېده.

**د ملکي مرګ ژوبلې کورني لاملونه**

په داسې حال کې چې په دوحه کې د امریکا او طالبانو ترمنځ د خبرو اترو ترځنګ، بین الافغاني خبرې اترې هم ترسره شوې او په پایله کې ژمنه وشوه چې حکومتي ځواکونه او طالب لوری به د ملکي وګړو مرګ ژوبلې کچې راښکته کولو کې کوټلې ګامونه اخلي، خو په وروستیو کې ولیدل شول چې تاوتریخوالي لاپسې زور واخیست او د روانې جګړې زیاتره قربانیان ملکي وګړي وي. د سولې په دغه روان درشل کې د تاوتریخوالي زیاتېدل ځکه د حیرانتیا خبره نه ده، چې د نړۍ په سطحه دا ثابته شوې چې کله هم د دوو لوریو ترمنځ د سولې خبرې اترې پیل شي، تاوتریخوالی ورسره زور اخلي او هر لوری کوښښ کوي چې خپل اړخ ځواکمن وښیي او زیات امتیازات تر لاسه کړي. افغان دولت او افغان طالبان هم د تاوتریخوالي کچې لوړولو په ترڅ کې غواړي چې ځان ځواکمن وښیي او ډېر امتیازات تر لاسه کړي. مګر افغان طالبان امتیازات او دوه ډوله امتیازات تر لاسه کول غواړي، یو دا چې امریکایي ځواکونه له افغانستان څخه ووځي او د جګړې ګټلو امتیاز واخلي، بل دا چې د افغان حکومت پر نه منلو باندې ټینګار او له افغان حکومت سره خبرې اترې نه کول، څو د هېواد په سطحه شته کمزوری نظام له منځه ولاړ شي او د هغې پر ځای د طالبانو د خوښې اسلامي امارت رامنځ ته شي. نو ځکه یې په اوس وخت کې جګړې ته زور ورکړی.


بلخوا افغان حکومت چې د سولې په نسبت ټاکنو ته لومړیتوب ورکوي، د لنډمهالي حکومت رامنځ ته کېدل د ۱۸ کلنو لاسته راوړنو او شته نظام پر وړاندې زیاتې ګڼي. خپلو چاپېرو او هوایي عملیاتو ته یې د پخوا په پرتله ډېر زور ورکړی، چې د میدان وردګ، لوګر او د هېواد په ځینو نورو سیمو کې د طالبانو په پرتله یې ډېره مرګ ژوبله اړولې ده. د افغان حکومت لخوا د وروستیو عملیاتو پراخوالی ښایي له دې امله وي، څو خپل ځان ځواکمن وښیي او له افغان طالبانو سره د مخامخ خبرو اترو کولو او په ترڅ کې د قدرت غځولو امتیاز تر لاسه کړي. دا چې د دواړو لوریو لخوا د یادو شویو امتیازاتو غوښتلو په پار په هېواد کې جګړې لاپسې زور اخیستی، د دواړو لوریو وسله والو ترځنګ، د جګړې ډېرې قربانیان ملکي وګړي وي. د ملکي وګړو د مرګ ژوبلې د زیاتوالي بل لامل په هېواد کې د بهرنیانو په مرسته هغه کورنۍ ډلې دي، چې خپلې ګټې یې په جګړه کې نغښتې او کله چې د سولې په هکله هیلې راپورته شي، هغوی غواړي چې پر ملکي خلکو خپلې حملې زیاتې کړي، څو د سولې په هکله خنډونه جوړ او جګړه دوام وموومي، لکه څه موده وړاندې چې په فراه ولایت کې د ملکي مسافرو یو بس په نخښه شو چې ټول قربانیان یې ملکي وګړي وو او پړه یې هیڅ وسله والې ډلې په غاړه وانخیسته او ټول قربانیان یې عام وګړي وو. بله ستره وېره چې د سولې پروړاندې ستر خنډ او د ملکي وګړو د مرګ ژوبلې زیاتوالي ستر لامل ګڼل کېږي، داعش وسله واله ډله ده، چې اکثره حملې د ملکي وګړو پروړاندې تر سره کوي. همدارنګه په هېواد کې د ولسمشریزو ټاکنو کمپاینونه، چې ولسي وګړي پکې برخه لري او د طالبانو لخوا په ټاکنیزو کمپاینې غونډو وروستۍ حملې او ولسي وګړو ته سخت ګواښونه هم د ملکي مرګ ژوبلې په برخه کې د پام وړ زیاتوالی راوستی دی.

**پایله**

دا چې د سولې په درشل کې جګړې لاپسې زور اخیستی، افغان مشران باید د بهرنیو هېوادونو پر ځای د افغان دولت او افغان طالبانو ترمنځ درېیمګړیتوب ته راودانګي، څو د افغان سولې راتلل شوني او افغان وژنه ودرېږي. دا ځکه چې په کراتو کراتو ولیدل شول چې بهرني هېوادونه د خپلو ملي ګټو پر وړاندې افغان سولې ته ارزښت نه ور کوي او آن دا چې ډېری هېوادونه په افغان سوله کې تر هغو رښتینې همکاري نه کوي، څو چې د هغوی داخلي ستونزې حل و نه مومي. دا کار بیا د افغان سولې پروسې د لاغځولو په مانا دی او کله چې د هغوی ستونزې حل نه شي، نو نه یوازې له درېیمګړیتوب څخه لاس اخلي، بلکې د افغان سولې په اړه سپک او بې مسوولیته ګواښونه هم کوي او په ښکاره توګه د افغان سولې پروړاندې خنډونه جوړوي. د هغو وسله والو ډلو په غښتلي کولو کې خپله ونډه لوبوي، چې د تاوتریخوالي په دوام کې یې ګټې نغښتې وي او هغوی خپلې ګټې د ملکي وګړو په وژلو او ټپي کولو سره په آسانه توګه تر لاسه کوي. طالبان او افغان حکومت باید د مخامخ خبرو اترو له لارې سوله افغانۍ کړي او د نورو هېوادونو لاسونه ترې لنډ کړي. سوله او خبرې اترې یو بل ته د څه ورکولو او منلو په مانا دي، نو د جګړې دواړه لوري (طالبان او افغان حکومت) باید همدې اصل ته په کتو، نه یوازې د ملکي وګړو مرګ ژوبلې ته د پای ټکی کېږدي، بلکې په یو ګډ کور کې یو د بل شتون ومني، څو د څو لسیزو جګړو ستړي افغان ولس د نورو ولسونو په څېر د هر اړخیزې سولې شاهد واوسي

# سوله او ټاکنې؛

## امریکا وایي: افغانستان کې سوله تر ټاکنو ورته مهمه ده



امریکایي چارواکو یو ځل بیا ویلي چې په افغانستان کې سوله تر ټاکنو ورته مهمه ده. تازه د ملي یووالي حکومت ولسمشر محمد اشرف غني په خپله مرکه کې ویلي، چې که یوازې دی د نوماند په توګه پاتې وي، خو بیا هم ټاکنې کوي او ټاکنو ته تر سولې لومړیتوب ورکوي. نوموړي ټینګار کړی چې ټاکنې د افغانانو حق دی او هېڅوک افغانان له دې حق نه شي محرومولی.

بل پلو تازه په افغانستان کې د امریکا سفیر جان باس هم په خپلو څرګندونو کې ویلي چې په افغانستان کې سوله تر ټاکنو ورته مهمه ده. نوموړی چې تېره ورځ مزارشریف ښار ته تللی و، له خبریالانو سره یې د خبرو پر مهال وویل چې د افغانستان اوسني وضعیت ته په کتو ټاکنې لومړیتوب نه لري، بلکې سوله ورته لومړیتوب ده.

جان باس دغه راز ویلي چې سوله د افغانستان د خلکو غوښتنه ده، نو له دې امله سولې ته تر ټاکنو لومړیتوب ورکوي. جان باس ویلي: ((که په سوله او د سولې په اوسنیو خبرو کې خنډ او ځنډ پیدا کېږي، نو بیا دې ټاکنې وشي، له دې پرته سوله لومړیتوب دی. بله خبره دا ده چې سوله ستر لومړیتوب دی، ځکه د افغانستان ټول خلک د سولې غوښتونکي دي. موږ په دې اړه په پرله پسې توګه له خلکو سره په اړیکه کې یو. موږ خپلو فعالیتونو ته ادامه ورکوو)).

جان باس په مزارشریف ښار کې له ځایي چارواکو سره د سولې او امنیت په اړه خبرې هم کړې دي. د بلخ له والي محمد اسحاق رهګذر سره یې هم لیدنه کړې او په دې لیدنه کې یې ویلي چې امریکا د افغانستان د سولې په پروسه کې هېڅ راز هڅې نه سپموي.

بلخوا د ملي یووالي حکومت بیا د ټاکنو او سولې په اړه ځینې اندېښنې لري. ولسمشر غني د ټاکنو د ځنډېدو په اړه اندېښنه لري او هغه د افغانانو په خیر نه بولي. د هغه په خبره، ټاکنې د خلکو حق دی او طالبان یا امریکا له خلکو دا حق نه شي اخیستلی. نوموړي ټینګار کړی چې دا ځل به ټاکنې په خپل وخت تر سره کېږي او هېڅ راز ځنډ به نه رامنځ ته کېږي.

له دې سره هممهاله تېره ورځ په رسنیو کې د موقت یا انتقالي حکومت د جوړېدو راپورونه هم خپاره شول. الجزیرې عربي رسنۍ په خپل یوه راپور کې د باوري سرچینو له قوله لیکلي وو، چې امریکا او طالبانو په افغانستان کې د موقت حکومت پر جوړېدو توافق کړی دی، چې ډېر ژر به اعلان شي. د سرچینې په خبره، دواړو لورو پر ډېرو مسایلو هوکړه کړې چې یو هم پکې موقت حکومت او اوربند ده. طالبانو بیا د یوه ټوېټ پیغام له لارې د الجزیرې دغه راپور رد کړی دی. افغان حکومت بیا د یادې رسنۍ پر تازه راپور څه نه دي ویلي، خو تر دې وړاندې یې په کلکه موقت حکومت رد کړی او په خبره یې، دا یوه دسیسه ده او طالبان باید د ملي یووالي له حکومت سره مذاکرات وکړي.

بل پلو سیمه ییزې او نړیوالې رسنۍ د طالبانو او امریکا ترمنځ په روانو مذاکراتو کې د مهمو پرمختګونو خبره کوي. پاکستاني رسنیو د طالب چارواکو له خولې لیکلي وو، چې طالبانو او امریکا د بهرنیو سرتېرو د وتلو پر مهالوېش توافق کړی دی، خو د عملي کولو د میکانېزم پر څرنګوالي بحث روان دی. ویل کېږي چې د دواړو لورو ترمنځ به مذاکرات دوې ورځ نور هم دوام کوي او ښایي تر هغه وروسته د طالبانو او امریکا ترمنځ د ځینو تضمین کوونکو هېوادونو په حضور کې د سولې هوکړه لاسلیک شي.

## د کتاب خبرې

# پښتانه


### د افغانستان او پاکستان د راتلونکي ناحل شوې مسئله

◎ لیکوال: ابوبکر صدیق

◎ ژباړن: اقامحمد قریشي

### دوهم څپرکی

### له سوله ییزو سرحدي سیمو د افراطیت تر بستره




متوکل بیا د طالبانو د جوړېدو په اړه داسې راته وویل: ((کندهار کې د طالبانو را ثرګندېدل د څو څپو یوه مجموعه وه. رسنیو ناسم راپورونه خپاره کړي چې ګنې هغوی د لومړي ځل لپاره په سپین بولدک کې راپورته شوي وو. طالبان د هغو طالبو مجاهدینو چې په ۱۹۸۰ ز لسیزه کې د شوروي پر وړاندې جنګېدلي وو او د هغو ځوانو طالب زده کوونکو چې په پاکستاني مدرسو کې روزل شوي وو یو ګډ حرکت و، خو د وخت په تېرېدو سره بېلابېل خلک له دې تحریک سره یو ځای شول. خلکو یې هرکلی وکړ، ځکه هغوی د داسې یوه تحریک اړتیا لیدله. کله چې یې پر لوی کندهار کنټرول خپل کړ، ګاونډیو هېوادونو دلچسپي ورسره پیدا شوه. دا طبعي وه چې دا حرکت یو سني حرکت و، ځکه نو باید د سني پاکستان له لوري یې ملاتړ شوی وای، نه د شیعه ایران له لوري.))

متوکل راته وویل چې د طالبانو په لومړنیو لیکو کې هغه تجربه لرونکي کسان هم وو چې د روسانو پر وړاندې یې جهاد کړی و او هغه کسان هم و چې د بلوچستان په مدرسو کې یې زده کړې هم کړې وې. هغه راته وویل: ((ځیني یې له جمعیت طلباء ډلې وو چې له بېلابېلو جهادي ډلو راغلي وو. د دوی له منځه یې تر ټولو پیاوړی د جمعیت طلباء حرکت و چې جمعیت طلباء اسلام ته ورته و، ځکه دواړه ډلې د دېوبند مکتب پلویان وو. تحریک لومړی په میوند کې را پیدا شو، حاجي بشر نورزي هغوی ته د خپلې ولسوالۍ واک ورکړ. له هغه ځایه یې بیا کندهار په کنټرول کې واخیست.))

له ۱۹۹۵ ز کال مخکې طالبان وتوانېدل چې د افغانستان د سویل درې ګڼ مېشتي پښتني ولایتونه کندهار، زابل او ارزګان ونیسي. دوی ته یاد ولایتونه له کومې جګړې پرته تسلیم شول. ځینې داسې بېلګې هم شته، لکه په زابل ولایت کې پخواني مجاهد، ملا عبدالسلام راکټي په سلګونو جنګیالي طالبانو ته ورکړل. نیمروز او فراه ولایتونه هم د ۱۹۹۵ ز کال په پیل کې د طالبانو په ولکه کې شول، خو طالبان د هرات نیولو په لومړي برید کې ناکام شول. له دې وړاندې چې طالبان د کابل پر لور حرکت وکړي، هغوی پر لوی کندهار ټینګ کنټرول ولګاوه. غزنی یې هم ونیوه، په وردګو او لوګر ولایتونو کې یې د چهاراسیاب په ګډون د حکمتیار ډېرې سیمې ونیوې. په لویه پکتیا کې جلال الدین حقاني هم د طالبانو ملاتړ وکړ چې خوست، پکتیا او پکتیکا یې تر لاس لاندې وو.

طالبان له یو لړ ګواښونو سره هم مخ شول، هغوی د هزاره ګانو مشر عبدالعلي مزاري د ۱۹۹۵ ز کال په مارچ کې ونیو او ویې واژه. له دې سره طالبان د لړکیو اهل تشیع له پرلپسې مخالفت سره مخ شول. طالبان په هرات کې د اسماعیل خان د کسانو له شدید مقاومت سره هم مخ شول، خو د سپټمبر میاشتې په پیل کې یې هرات ونیوه. له هرې بریا وروسته به یې له لیکو سره نوي کسان یو ځای کېدل. د ۱۹۹۵ ز کال تر پایه د طالبانو شمېر ۲۵۰۰۰ تنو ته ورسېده.

د ۱۹۹٦ز کال په اپرېل کې د کندهار د زر تنو دیني علماوو شورا ملا محمدعمر د امیرالمؤمنین په توګه اعلان کړ. شورا کابل کې د برهان الدین رباني د حکومت پر ضد د جهاد اعلان وکړ. د طالبانو د ګواښ پر وړاندې د مجاهدینو ډېری ډلې سره یو ځای شوې. حکمتیار له خپلو مخالفینو احمدشاه مسعود او رباني سره د ۱۹۹۵ز کال په جون کې د کابل د دفاع لپاره یو ځای شو، خو اصل ځواک له طالبانو سره و.

د ۱۹۹٦ز کال په سپټمبر کې د جلال‌اباد مجاهدین هم له طالبانو سره یو ځای شول، له دې سره د پښتنو ډېری سیمې د طالبانو تر کنټرول لاندې شوې. وروسته تر هغې چې د حکمتیار ځواکمنه کرښه سروبی د طالبانو لاس ته ولوېد، طالبانو د احمدشاه مسعود د اوسېدو پر سیمه، پنجشېر ته مخه کړه، خو د پنجشېر د نیولو لپاره له څو ځله هڅو وروسته هم ناکام شول. یاده سیمه د طالبانو له کنټرول څخه د دوی د واکمنۍ تر پای پورې وتلې وه.

طالبان له خپل ظهور دوه کاله وروسته د کابل پر نیولو وتوانېدل. طالبانو تر هرڅه لومړی پخوانی ملت پال ولسمشر ډاکټر نجیب او د هغه ورور ووژل. وحید مژده چې د طالبانو د قدرت پر مهال یې د بهرنیو چارو وزارت کې لوړه دنده لرله وایي چې ډاکټر نجیب هم د طالبانو په څېر پښتون و، هغه یې د قومي اختلاف لپاره نه بلکې د الله ج د خوشالولو لپاره وواژه.

د ۱۹۹۷ ز کال په پسرلي کې چې واورې اوبه شوې، د طالبانو د جګړو د موسم لپاره یو نوی زېری و. طالبانو خپله پاملرنه د هندوکش شمال ته واړوله. د طالبانو له لوري د مزار شریف ښار نیول حیرانوونکی کار و. د جنرال عبدالرشید دوستم پخوانی مرستیال او د طالبانو تش په نوم ملګری ازبک جنرال عبدالملک پهلوان طالبان له هزاره قوم سره جګړې ته وهڅول. پهلوان طالبانو ته وویل چې له هزاره وو وسلې ټولې کړي، بل لور یې هزاره وو ته وویل چې له سني طالبانو سره جګړه وکړي.

د ۱۹۹۷ ز کال په مې میاشت کې د مزار شریف ښار په دوه ورځنۍ جګړه کې په سلګونو طالبان ووژل شول. په زرګونو نور هم زندانیان شول. وروسته ملګرو ملتونو وموندل چې مزار شریف ته نږدې یوه سیمه کې د دوه زره طالبانو زندانیان لومړی شکنجه، بیا وژل شوي او تر خاورو لاندې وو. د طالبانو د وحشتونو او ظلمونو کیسې هم شته. د ازبکو او هزاره وو یووالی، وروسته له هغه دړې وړې شو چې په ګډه یې له مزار شریف څخه طالبان وویستل.

**دوام لري...**

# سلطان محمود غزنوي د لوړو زده کړو خصوصي موسسه

حمیدالله حمیدي




غزني د افغانستان یو له مهمو او مرکزي ولایتونو شمېرل کېږي. په غزني ولایت کې کلتوري هلې ځلې له لویه سره په ۱۳۳۱ لمریز کال کې د سنایي اونیزې په خپرېدو سره چټکې او په رسمي ډول پیل شوې. که د غزني تېر تاریخ ته پام وکړو، دغه ولایت په تېر کې هم له تاریخي او علمي پلوه د عرفان او ادب د یو علمي مرکز په توګه پېژندل شوی و. د سلطان محمود غزنوي په دوره کې په سلګونو شاعران او عارفان له بېلابېلو ښارونو دغه ولایت ته راټول شوي وو. همدا راز په غزني ولایت کې زیات شمېر کلتوري ټولنې شته. په غزنې کې د نوې دولت په راتګ سره د پوهنې ریاست عامه کتابتون او د اطلاعاتو او کلتور ریاست پر البیروني کتابتون سربېره، نږدې ۳۰ کتاب پلورنځي شته او د دې ترڅنګ، په ځینو شخصي پوهنتونونو او ښوونځیو کې هم ورته لوی لوی کتابتونونه شته چې هر وخت ورنه زده کوونکي او د مطالعې مینه وال ګټه اخلي. غزني که څه هم مخکې د هېواد د نورو ځینو ولایتونو په کچه د پوهنې په برخه مخکښ و، خو وروستیو څو لسیزو جګړو د دغه ولایت ښوونې او روزنې ته هم زیان اړولی او په ډېری ولسوالیو کې یې تر ډېره ښوونځي وتړل شول او څو دورې هلکان او نجونې یې له تعلیمه پاتې شول. دغه ولایت یو دولتي پوهنتون هم لري. د دولتي پوهنتون تر څنګ، په دغه ولایت کې خصوصي د لوړو زده کړو موسسې هم فعالیت کوي، چې له دې ډلې یوه یې هم د سلطان محمود غزنوي د لوړو زده کړو موسسه ده.

سلطان محمود غزنوي د لوړو زده کړو خصوصي موسسې په ۱۳۹۳ لمریز کال کې د لوړو زده کړو وزارت په منظورۍ، په غزني ولایت کې د دوو پوهنځیو (شرعیاتو او اقتصاد) په درلودلو سره پر فعالیت پیل وکړ او په همدې دوو پوهنځیو کې یې عملاً محصلین د زده کړو لپاره جذب کړل. د دې موسسې د کیفیت د تضمین امر صبغت الله رحمتي وایي، موسسه یې اوس هم همدا دوه پوهنځي لري، چې اقتصاد پوهنځی یې (مالي او بانکي چارو او اداره و تجارت) ډیپارټمنټونه او شرعیاتو پوهنځی یې هم دوه ډیپارټمنټونه ( فقه او قانون او اسلامي زده کړې) لري.

سلطان محمود غزنوي د لوړو زده کړو موسسه اوسمهال په خپلو فعالو دوو پوهنځیو کې ۱۷۷۸ محصلین لري، چې له ډلې یې ۸۱ ښځینه محصلینې دي. ښاغلی رحمتي وایي، تر اوسه پورې یې په دریو دورو کې لږ تر لږه ۳۵۸ محصلین د لېسانس په کچه ټولنې ته د خدمت په موخه وړاندې کړي چې له دې ډلې ۱۵ تنه یې ښځینه وې.

دې موسسې ته د ورځې په دوو وختونو کې محصلین د زده کړو لپاره ورځي. ښاغلی صبغت الله رحمتي وایي، لومړی ټایم یې سهار اته بجې پیلېږي او له غرمې مخکې تر ۱۱ بجو پورې دوام کوي او دویم ټایم یې بیا د مازدیګر په څلور بجې پیلېږي چې د شپې تر اوو بجو پورې دوام کوي. په دې موسسه کې د تدریس چارې د لږ تر لږه ۵۸ استادانو لخوا مخ ته وړل کېږي، چې په دې ډله کې ۱۵تنه یې ښځینه استادانې هم دي. د رحمتي په خبره، د ښځینه او نارینه وو محصلینو ټولګي یې بېل دي، نو له همدې کبله یې د نورو خصوصي پوهنتونونو په پرتله د ښځینه استادانو شمېر زیات دی، ځکه د ښځینه محصلینو په ټولګیو کې یوازې ښځینه استادانې تدریس کوي. دی وایي، ۲۸ استادان یې د ماسټرۍ تر کچې لوړې زده کړې لري او پاتې نور یې لېسانس دي. نوموړی وایي، اته استادان یې د دوکتورا او ماسټرۍ په پروګرامونو کې د ګډون په موخه بهرنیو هېوادونو ته تللي او د پاتې لېسانس استادانو لپاره به هم ډېر ژر په کور د ننه او بهر کې د ماسټرۍ اخیستو زمینه برابره کړي.

سلطان محمود غزنوي د لوړو زده کړو موسسه له هېواده بهر تر اوسه پورې له کوم پوهنتون سره علمي اړیکې یا هوکړې نه لري، خو د ښاغلي رحمتي په خبره، خپله په غزني ولایت کې د غزني له دولتي پوهنتون او په دې ولایت کې له نورو خصوصي پوهنتونونو سره علمي اړیکې او په ځینو برخو کې هوکړې لري. دی وایي، په غزني ولایت کې له دې پوهنتونونو سره وخت ناوخت خپلې ستونزې او تجربې شریکوي او تر څنګ یې د هغوی له تجربو هم ګټه اخلي. نوموړی وایي، هڅه یې دا ده چې په لومړي سر کې د کابل له مرکزي پوهنتون او د هېواد له نورو دولتي او خصوصي پوهنتونونو سره خپلې اړیکې ټینګې کړي او په دې برخه کې د هغوی له تجربو ګټه واخلي.

سلطان محمود غزنوي د لوړوړ زده کړو موسسه د خپلو محصلینو او استادانو لپاره مجهز کتابتون لري، چې په هارډ ډول پکې لږ تر لږه ۱۸ زره او په سافټ ډول ۱۰ زره ټوکه بېلابېل او په ځانګړې توګه د اقتصاد او شرعیاتو پوهنځي اړوند علمي کتابونه لري. صبغت الله رحمتي وایي، د کتابتون ترڅنګ یې محصلینو ته د موسسې په د ننه کې د انټرنېټ اسانتیا هم برابره کړې ده چې محصلین کولی شي په رسمي وخت کې له دې انټرنېټ کلپ څخه ګټه واخلي. دی وایي، د شرعیاتو پوهنځي محصلین یې د عملي زده کړو لپاره د غزني پوهنتون له حقوقي کلینیک سره د یوې هوکړې له مخې دغه پوهنتون ته ورځي، عملي زده کړې کوي او په دې ولایت کې د مدافع وکیلانو له تجربو او لکچرونو ګټه اخلي. دغه راز یې د اقتصاد پوهنځي محصلینو ته د غزني ولایت په بانکونو کې د عملي زده کړو او تجربو تر لاسه کولو لپاره، د دغو بانکونو له ادارو سره هم هوکړې لاسلیک کړې دي او محصلین د زده کړو لپاره ور استوي.

د دې موسسې د کیفیت د تضمین امر وایي، دا چې په ټوله کې په غزني ولایت کې د خلکو اقتصادي وضعیت ښه نه دی، نو هڅه کوي چې ټولو محصلینو ته تخفیف په پام کې ونیسي، خو تر څنګ یې په یاد ولایت کې دوی له ډېرو ریاستونو او ادارو سره ځینې هوکړې لري چې له مخې یې هغه محصلین چې د یادو ادارو لخوا دوی ته ورپېژندل کېږي، پنځوس سلنه تخفیف ورکوي. ښاغلی رحمتي وایي، بېوزله محصلین هم چې کله خپلې اقتصادي ستونزې د موسسې له اداري سره شریکې کړي او په رښتیا هم بېوزله وپېژندل شي، دوی ورته مناسب تخفیف ورکوي، څو له لوړو زده کو پاتې نه شي.

ښاغلی رحمتي وایي، پخوا به له بده مرغه په لوړو زده کړو وزارت کې د دوی د فارغ شویو محصلینو د تحصیلي اسنادونو تایید یو څه ځنډ اخیست، چې لا هم دغه ستونزه په کلي توګه نه ده حل شوې، خو د دې وزارت په ټولو برخو کې د بدلونونو تر څنګ، د محصلینو معینیت کې هم اوس دغه ستونزې تر یوې کچې پورې حل شوې دي. دی وایي، کله چې محصل خپل مونوګراف بشپړ کړي او فارغ شي، ډېر ژر یې د موسسې لخوا د تحصیلي اسنادونو اړوند چارې مخ ته ځي او لوړو زده کړو وزارت ته د تایید لپاره استول کېږي.

د سلطان محمود غزنوي د لوړو زده کړو موسسه د خپل دې بنسټ لپاره ډېر پلانونه لري، چې یو پر بل پسې به یې عملي کوي. ښاغلی رحمتي وایي، دوی په لومړي سر کې لوړو زده کړو وزارته د پنځو پوهنځیو د منظورۍ غوښتنلیک سپارلی و، چې وروسته د دوی امکاناتو ته په کتو، لوړو زده کړو وزارت یوازې د شرعیاتو او اقتصاد پوهنځیو منظوري ورکړه. دی وایي، د حقوقو او سیاسي علومو، معالجوي طب او ښوونې او روزنې پوهنځیو غوښتنلیک یې لا هم په لوړو زده کړو وزارت کې دی، چې کارونه یې یو څه مخ ته تللي دي. دا چې اوسمهال ولسمشر په خصوصي پوهنتونونو او د لوړو زده کړو په موسسو کې د نویو پوهنځیو د تاسیس چارې ځنډولې دي، نو په دویم ځلي پیل سره به دغه موسسه هم وتوانېږي، چې له لوړو زده کړو وزارت څخه د یادو دریو پوهنځیو منظوري هم واخلي او فعالیت به پیل کړي.

د دې موسسې اداره له لوړو زده کړو وزارت څخه غواړي، چې وخت ناوخت له خصوصي پوهنتونونو او لوړو زده کړو موسسه څخه لیدنه وکړي او کارونه یې و ارزوي. تر څنګ یې باید په لوړو زده کړو وزارت کې هغه ستونزې حل شي، چې د دوی د فارغ شویو محصلینو د تحصیلي اسنادونو تایید له ځنډ او خنډ سره مخ کوي. دوی وایي، که څه هم چې اوس په یاد وزارت کې دغه ستونزه تر یوې کچې حل شوې ده، خو دوی یې د کامل حل غوښتونکي دي. دغه اداره همدا راز وایي چې د غزني ولایت له ښوونځیو څخه هر کال د فارغ زده کوونکو شمېر مخ پر ډېرېدو دی او لوړو زده کړو وزارت نه شي کولی ټول زده کوونکي د کانکور ازموینې له لارې په دولتي پوهنتونونو یا د لوړو زده کړو په موسسو کې جذب کړي. په غزني ولایت کې د خصوصي پوهنتونونو د کمښت تر څنګ، په دې پوهنتونونو کې د اړینو پوهنځیو شمېر هم کم دی، نو دغه زده کوونکي د اقتصادي ستونزو له کبله ګاونډیو ولایتونو ته د زده کړو لپاره نه شي تللی. که چېرته لوړو زده کړو وزارت په یاد ولایت کې خصوصي پوهنتونونو ته د نویو پوهنځیو د تاسیس اجازه ورکړي، دغه ستونزه به هم تر یوې کچې پورې حل شوې وي.

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۸,۸۰ |
| € | ۸۷,۶۰ |
| Rp. | ۴۹۹ |
| ₹ | ۱۱۱۰ |
| ¥ | ۱۱,۳۰ |
| £ | ۹۵,۳۰ |

### پروازونه

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 07:00 |
| کابل - دوبۍ | 15:30 |
| کابل - ډهلي | 07:00 |

Kam Air

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 09:00 |
| کابل - کندهار | 09:00 |
| کابل - ډهلي | 10:00 |

flydubai

| | |
|---|---|
| کابل - دوبۍ | 08:50 |
| کابل - دوبۍ | 14:40 |
| کابل - دوبۍ | 18:15 |

### بیړنۍ شمېرې

پولیس
119 - 100
امبولانس
112
اتاترک روغتون
0202500312
ملالۍ زېږنتون
0202201377
وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360
رابعه بلخي روغتون
0202100439

همیانی

# د بریا لاسته راوړلو لپاره ځینې مهم ارتباطي مهارتونه

ژباړه: امان الله «حنیفي»

پر زده کړو او تجربو سربېره چې د هرې بریا لاسته راوړلو لپاره اساسي او کلیدي بلل کېږي، ټولنیزې اړیکې او بیا په خاص ډول د هر چا د کاري برخې اړوند له بریالیو کسانو سره اړیکې، نن ورځ هغه مهم مهارت بلل کېږي چې په نه لرلو سره یې سړی له ډېرو ستونزو سره مخ کېږي.

د اړیکو د ساتلو او پاللو برخې لیکوال او مشاور ډیوېډ پارنل په باور، د اړیکو پالل او ساتل (هغه بېلابېل مهارتونه چې پر مټ یې یو شخص کولای شي له ډېرو کسانو سره، چې تر ډېره د هغه د مسلک او کار اړوند وي، اړیکې وساتي او پر مټ یې خپلې موخې ته ورسېږي.) په دوو صفتونو کې خلاصه کېدای شي. یو دا چې کس مینه ناک او له کینې او کرکې لرې وي او بل دا چې خپله دا کس د ښه شخصیت لرونکی وي. پارنل وایي، که مینه ناک نه وی او یا مو هم ځینې داسې ځانګړنې درلودې، چې د ډېرو خلکو نه خوښېدې، تاسې له ځانه دا تمه مه کوی چې نور به درسره اړیکې وپالي. ډیوېډ پارنل وایي، د دغه دوو صفتونو د پیدا کولو لپاره باید ځینې نور صفتونه خپل شي، څو یې پایله د دغه دوو صفتونو په لاسته راوړلو ختمه شي.

موږ په همدې مقاله کې ځینې هغه مهم مهارتونه تاسې ته ښیو، چې له تاسې سره د اړیکو په ساتلو کې مرسته کوي. که غواړی چې له نورو سره ښې اړیکې ولرئ، دا لاندې مهارتونه خپل کړئ.

لین تیلور د کاري چاپېریال کارپېژندونکی دغه مهارتونه د مقابلو لورو ترمنځ مصلحت په ګوته کوي. هغه په کاري چاپېریال کې ناسته پاسته داسې توضېح کوي: «هر کارکوونکی دا خوښوي چې په دوستانه چاپېریال کې کار وکړي. خشن او له حده زیات جدي چاپېریال کاري وړتیاوې په غیر مستقیم ډول کمزورې کوي. د ښو اړیکو پر مټ، هر کارکوونکی کولای شي کاري کمزورۍ له منځه یوسي. ځینې مدبر اشخاص چې پیاوړې ټولنیز هوښ لري، په کاري چاپېریال کې پر پیاوړو او بریالیو رهبرانو اوړي. دا ډول کسان پوهېږي چې د اړیکو پر ساتلو باور، موخې ته د رسېدو له اصلي لارو یوه هغه ده. د اړیکو پر پاللو او پیاوړي کولو سره کولای شو کاري خشن چاپېریال پر مینه ناک او یو پرمختګ کوونکي چاپېریال بدل کړو».

**۱ـ له نورو سره د اړیکو پاللو او ساتلو وړتیا**

په سوادګریزه حوزه کې له نورو سره د اړیکو پالل او ساتل، د مهمو لاسته راوړنو لپاره یو مهم مهارت یادېږي، چې باید هر سوداګر یې ولري. ځینې وخت د اړیکو جوړول ډېر اسانه وي، همدا چې مو له نورو سره خپل مخالفت او یا هم موافقت په ډېر ښه او هغه ته په پوره احترام درلودو سره څرګند کړ، تاسې مستقیماً له هغه سره په اړیکه کې کېږئ. کېدای شي ډېر له داسې پېښنو سره مخ شوی وئ، چې له یو چا سره تر مخالفت او موافقت وروسته مو د هغه کس په اړه پوښتنه کړې او غوښتي مو دي چې له هغه سره یو ځل له نږدې هم وګورئ. خو پام مو وي، په پوره احترام یا د هغه مخالفت وکړئ او یا هم پخلی. که دا دریغ نیول مو د احترام له پولې واوښتل، حتماً به له هغه کس سره یا به هغه له تاسې سره خشن عکس العمل کوي.

**۲ـ د خبرو کولو مهارت**

د اړیکو ټینګولو یو مهارت خبرې کول دي. پر ټاکلي موضوع ښه برلاسي پر مخاطبینو د ویناوال د اغېز په برېباسلو کې ډېر مهم رول لري او هغوی د هغه خبرو اورېدو ته هڅوي. د خبرو کولو مهارت پر مټ، له نورو سره اړیکې جوړېږي. تیلور په دې اړه وایي: «که د لیکوالۍ او وینا په برخه کې کاپي استعداد لرئ، بریا ستاسې ده. په نننۍ نړۍ کې چې اړیکې پالل د ټکنالوژۍ پر مټ ډېر اسانه شوي دي، د ډېرې مسایلو په اړه په ډېر اسانه ډول پوهېدای شئ».

تیلور پارنل وایي: «دا چې د ژوند د ډېرو مسایلو په اړه زموږ ذهني درک له نورو سره تفاوت لري، نو باید د خبرو پر مهال یا له هغو سره د اړیکو پاللو په وخت باید د هغه جدي مخالفت ونه کړو او په پوره احترام د هغه نظر ومنو. د اړیکو پاللو پیاوړي مدیران د خبرو پر مهال، له نورو سره د ځینو مهمو مسایلو په اړه له مخالفته ځان ساتي».

**۳- باور کول**

موږ خپلو موخو ته د رسېدو لپاره اړیکو ته ضرورت لرو او سالمې اړیکې د پوره باور پر مټ ساتل کېږي. باور کول یو ارتباطي مهارت دی، چې له هغه سترګې نه شي پټېدای. موږ هغه وخت په کاري چاپېریال کې بریا ته رسېدونکي یو، چې د پوره باور او اطمینان احساس ولرو. که غواړئ له نورو سره ښې اړیکې ولرئ، پر هغه او ځان ښه باور وکړئ.

۴- باید پوه شی چې کله او څه وخت له نورو سره همدلي وښیی د نورو له حال څخه د خبر لرلو لپاره باید له هغه سره په اړیکه کې و اوسی. د ځینو مسایلو په اړه هغه د هغوی له ذهني زاویې وارزوئ او که اړتیا وي، له هغوی سره مرسته هم وکړئ. په کاري او کورني ژوند کې له نورو سره خپله همدلي وښیئ. دا کړنه د مقابل لوري د مثبت اقدام کولو سبب کېږي. که ستاسې په کاري چاپېریال کې د انساني کړنو او حقوقو په اړه څه پوهاوی نه وي، هغه ده چې ستاسې اړیکې به محدودې شي او داسې چې ستاسې زړه غواړي، هغسې پرمختګ به ونه کړي.

**۵ـ د اورېدلو مهارت**

موږ دوه غوږونه او یوه خوله لرو. مانا دا چې مخکې له خبرو کولو باید لومړی ښه واورو. د یو چا خبرو ته کېناستل او د یو چا خبرې اورېدل، دوې جلا مقولې دي. په سمه توګه خبرې اورېدل یو ښه مهارت دی. یو ښه اورېدونکی خپل مخاطب ته ښه توجه کوي. هغه په پوره پام د هغه خبرې اوري او له ښه تحلیل وروسته د هغه په اړه خپل دریځ ښیي. د خبرو اورېدو مهارت زده کېږي او په لاسته راوړلو سره یې د مقابل لوري زړه خپل کېږي.

# احمدزی: داعش ډله په شمال کې د خپلو فعالیتونو د پراخولو هڅه کوي

امنیتي چارواکي وایي، د داعش ډلې ازبکستاني غړي هڅه کوي چې یو ځل بیا په شمال زون کې خپل فعالیتونه پراخ کړي.

د ۲۰۹ شاهین قول اردو قوماندان جنرال ولي محمد احمدزي ازادي راډیو ته ویلي چې داعش ډله د فاریاب په خواجه ناموسی ولسوالۍ او همدا راز د جوزجان په ځینو سیمو کې ځان ته د وفادارو ځواکونو د تجهیز په حال کې ده.

د احمدزي په خبره، په جوزجان او فاریاب ولایتونو کې ازبکستاني وګړي د داعش ډلې مشري کوي.

هغه ویلي: «په جوزجان او فاریاب کې بعضې ازبک خلک دي چې له ازبکستان سره تعلق لري او څو شپې دمخه، زموږ د ځانګړو عملیاتو په ترځ کې د فاریاب په خواجه ناموسی سیمه کې د دغې ډلې دوه مشران له منځه ولاړل».

په شمال زون کې د ۲۰۹ شاهین قول اردو قوماندان دغه راز ویلي چې په ځینو مواردو کې د سرپل ولایت په کوهستاناتو ولسوالۍ کې هم د داعش ډلې ځینې کسان پېژندل شوي، چې د هغوی پر پټنځایونو د هوایي او ځمکني ځواک لخوا بریدونه شوي دي.

احمدزي زیاته کړې: «په کوهستاناتو کې زموږ قوتونه شته، موږ هلته هوایي او ځمکني تحرکات تر سره کړي، زه دا منم چې داسې راپورونه شته چې ښایي په ځینو سیمو کې دا کسان حضور لري، زموږ هوایي استخبارات هم هڅه کوي چې د داعش ډلې په اړه هر راپور چې تر لاسه کړي، دوی به هلته په ښنه کړي».

بلخوا د سرپل ولایتي شورا غړي هم په دغه ولایت کې د داعش ډلې د بیا ځل فعالیت په اړه اندېښمن دي او وایي چې ډېر ژر باید د یادې تروریستي شبکې د له منځه وړلو په خاطر هڅې وشي.

د سرپل ولایتي شورا غړي حسین مجاهدزاده ویلي: «د افغانستان حکومت باید د داعش ډلې د تمویل سرچینې او شمالي ولایتونو ته د هغوی د بهرنیو غړو د راتګ لارې پیدا او مسدودې کړي».

په همدې حال کې د ملي امنیت شورا هم داعش ډله د دغه هېواد لپاره یو تاکتیکي خطر بولي او ویلي یې دي چې له دغې شبکې سره د نورو تروریستي ډلو د غړو یو ځای کېدل به داعش ډلې ته ولسي ریښه ور وښيي او هغه مهال به دا په یو ستراتېژیک ګواښ بدل شي.

# تازه موندنې: په اسلام اباد کې د افغانستان سفارت په کمپلېکس کې له څلورو میلیونو ډالرو ډېر اختلاس شوی

د پژواک تازه موندنې ښیي چې په اسلام اباد کې د افغانستان سفارت د کمپلېکس په جوړولو کې د وخت د مسوولینو لخوا له څلورو میلیونو ډالرو ډېر اختلاس شوی دی.

اسناد او مدارک ښیي چې د بهرنیو چارو وزارت مسوولینو هغه شرکت ته له څلورو میلیونو د ډېرو امریکایي ډالرو اخیستو زمینه برابره کړې وه، چې د سفارت د کمپلېکس جوړولو مسوولیت یې پر غاړه و.

په اسلام اباد کې د افغانستان سفارت ملکیت په ۱۴ جریبه ځمکه کې د پاکستان د اسلام اباد په یوې ډیپلوماټیک مېشته ساحه کې موقعیت لري.

دغه مساحت په ۱۹۶۰ ز کال کې د افغانستان د پخواني ولسمشر محمد داوود خان د واکمنۍ پر مهال، د شاوخوا ۵۸ میلیونو کلدارو په بیه پېرل شوی، خو د ودانۍ د نه لرلو له امله د فعالیت له پیله تر اوسه یې کونسلي چارې په شخصي ودانیو کې پر مخ وړل کېږي.

د ملي یووالي حکومت په رامنځته کېدو په اسلام اباد کې د افغانستان سفارت د کمپلېکس د جوړېدو هڅې پیل او په ۱۳۹۶ لمریز کال کې یې د جوړولو تړون د څه باندې ۱۶ میلیونو امریکایي ډالرو په لګښت، په اسلام اباد کې د افغانستان د سفیر عمر زاخېلوال او د چین د انهوی ساختماني شرکت (ACEG) د استازي ترمنځ لاسلیک شو.

د دې پروژې عملي کار د ۱۳۹۶ لمریز کال د زمري په ۲۹مه پیل شو او تر اوسه یې شاوخوا ۳۲ سلنه چارې پرمخ تللې دي.

د انهوی ساختماني شرکت د پروژې ټولیزه بیه له ۱۷ میلیونو او ۲۹ زرو امریکایي ډالرو ډېره ښودلې او ژمنه یې کړې چې په دې پروژه کې ۵،۷ سلنه تخفیف ورکوي.

یاد شرکت د خپل معیاري کار ډاډ ورکړی او ویلي یې دي چې پروژه یې په شفاف او رښتینې توګه پر مخ وړې ده.

په اسلام اباد کې د افغان سفارت د کمپلېکس جوړولو پروژه کې د عمده ستونزو په اړه د بهرنیو چارو وزارت د نظارتي پلاوي په هغه راپور کې چې پژواک خبري اژانس هم تر لاسه کړی، د پروژې په کار کې د شرکت پر نه صداقت نیوکه شوې او ویل شوي چې د انهوی چینایي ساختماني شرکت یې ژمنې نه دي عملي کړې.

په راپور کې راغلي، د پروژې د کار د حجم او ځانګړتیاوو لېست ته په کتو، په ډېرى مواردو کې د کار حجم معلوم او د في واحد بیه هم د قراردادي شرکت لخوا ټاکل شوې، خو دغه بیه د تړون په ټولیزه بیه کې نه ده رسول شوې.

نظارتي پلاوي دغه کار د تړون له موادو جدي سرغړونه بللې او لیکلي یې دي چې د محاسبوي تېروتنو له امله په پروژه کې له څلورو میلیونو امریکایي ډالرو ډېر زیاتوالی راغلی دی.

د راپور په دوام کې راغلي چې ځینې غیر اړین توکي د پروژې د کار په حجم کې زیات شوي، چې په اصل کې د پروژې په مالک پورې هېڅ اړه نه لري، که دغه توکي د پروژې له کار څخه لرې شي، د پروژې بیه په میلیونونو امریکایي ډالره کمېږي.

مسیر ورځپاڼه
**مسوول مدیر:** اسدالله وحیدي
**مرستیال:** شفیق امیرزی
**اېډېټران:** جواد تیموري او امان الله حنیفي
**لیکوالان:** اېمل خان، نذیر احمد سهار
او شفیق همدرد
**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین
او حشمت الله نوري
**ګرافیک او ډیزاین:** ارمان
**چاپخونه:** وایګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲۶۲۶
۰۷۸۲۹۸۹۶۹۶
maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

Maseer
New Vision, New Journey
Daily




یکشنبه د ۱۳۹۸ د سنبلې درېیمه | د ۲۰۱۹ د اګسټ ۲۵مه | ۴۱۹مه ګڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
| --- | --- | --- | --- | --- | --- |
| ۳۱ | ۳۴ | ۳۷ | ۳۶ | ۳۸ | ۳۲ |
| ۱۹ | ۱۸ | ۱۸ | ۲۴ | ۲۷ | ۲۳ |

شرعي وختونه: سهار ۰۳:۵۲ | لمر ختل ۰۵:۲۰ | ماسپښین ۱۱:۵۷ | مازدیګر ۰۳:۳۷ | ماښام ۰۶:۳۲ | ماخوستن ۰۸:۰۱

## نړۍ



۳

## القاعده شبکې ادعا کړې چې پاکستان د دې ډلې د مشر او نورو جنګیالیو کورنۍ نیولې دي



القاعده شبکې د پاکستان پر امنیتي ځواکونو تور پورې کړی چې د دې ډلې د مشر ایمن الزواهري ښځه او د دې ډلې د دوو وژل شویو وسله والو کورنۍ یې نیولې دي.

د دې شبکې د ادعا پر بنسټ، پاکستاني امنیتي ځواکونو تقریباً یو کال مخکې دا کار کړی دی.

د اسوشیټېډ پرېس په حواله، القاعدې ډلې په یوه بیان کې ادعا کړې چې د پاکستان امنیتي ځواکونو یو کال مخکې د ایمن الزواهري ښځه او څو نور کسان چې له وزیرستانه د سختو بمباریو له امله وتل، نیولي دي.

په بیان کې لیکل شوي: «موږ د پاکستان حکومت، د هغوی خاین پوځ او د هغوی امریکایي لارښودونکي د هغوی د جنایتکارو فعالیتونو مسوول ګڼو».

خو د پاکستان حکومت تر اوسه د دې مسئله په اړه غبرګون نه دی ښودلی.

د یادونې ده، وروسته له هغې چې د امریکا ځانګړو ځواکونو په ۲۰۱۱ ز کال کې د پاکستان په ایبټ اباد سیمه کې په پوځي عملیاتو کې اسامه بن لادن وواژه، ایمن الزواهري د القاعده مشر وټاکل شو.

په امریکا کې د سپټمبر د یوولسمې تر خونړیو بریدونو وروسته، القاعده شبکه د دغې پېښې مسووله وګڼل شوه او کله چې د امریکا متحده ایالتونو په افغانستان کې د تروریزم پر ضد جګړه پیل کړه، اسامه بن لادن بې درکه شو او وروسته د پاکستان په ایبټ اباد کې د امریکایي ځواکونو په عملیاتو کې ووژل شو.

## اردوغان په سوریه کې د روان کړکېچ پر سر د بحث لپاره روسیې ته ځي



ترکي رسنیو ویلي، د دغه هېواد ولسمشر رجب طیب اردوغان د راتلونکې سې شنبې په ورځ په سوریه کې د روان وضعیت په تړاو د بحث لپاره روسیې ته ځي.

د راپورونو له مخې، اردوغان به په مسکو کې د روسیې له ولسمشر ولادیمیر پوتین او د دغه هېواد له نورو لوړپوړو چارواکو سره وګوري.

بلخوا د ترکیې د ولسمشر دفتر هم مسکو ته د اردوغان د سفر پخلی کړی او ویلي یې دي چې د دغه سفر لپاره بشپړ چمتووالی نیول شوی دی.

دا په داسې حال کې ده چې اردوغان او پوتین ورمه ورځ هم ټلیفوني خبرې کړې دي او د سورېې په شمال لوېدیځو سیمو کې د امنیتي وضعیت په اړه غږېدلي دي.

ولسمشر اردوغان په دې ټلیفوني خبرو کې پوتین ته ویلي چې د بشارالاسد د ځواکونو عملیاتو، چې مسکو یې ملاتړ کوي، په سوریه کې بشري ناورین او د ترکیې امنیت ته جدي ګواښ پېښ کړی دی.

په ورته وخت کې کرېملین ویلي چې پوتین او اردوغان موافقه کړې چې د سورېې په ادلیب ولایت کې د امنیت د ښه کېدو لپاره ګډې هڅې وکړي.

د یادونې ده چې په دې وروستیو کې په ادلیب کې د امنیت د خرابېدو او د جګړې د شدت له امله، لسګونه زره کسان تېښتې ته اړ شوي دي.

## اداره احصائیه: با دیجیتلی شدن آرشیف ثبت احوال نفوس، روند تائید تذکره‌ها سرعت یافته است



اداره احصائیه و معلومات می‌گوید که آرشیف ثبت احوال نفوس را دیجیتلی ساخته و با ایجاد یک مرکز در کابل، روند تائیدی تذکره‌های کاغذی را سریع و ساده ساخته است.

تائید تذکره‌های کاغذی، بعد از آن در سال ۱۳۹۴ هجری شمسی آغاز شد که یک تبعه ایرانی، تذکره تابعیت افغانستان را ساخت و افشا گردید. تائید تذکره به دلیل ازدحام مردم به یک مشکل برای مردم تبدیل شده بود و گزارش‌هایی وجود دارد که تائیدی تذکره، چندین روز را در بر می گرفت.

اما اداره احصائیه و معلومات می گوید که اکنون با دیجیتلی ساختن آرشیف ثبت احوال نفوس و ایجاد مرکز جدید برای تائید تذکره ها، این مشکل را حل کرده است.

مرکز یاد شده، دیروز طی مراسمی در مربوطات ناحیه سوم شهر کابل در نزدیکی ریاست پاسپورت گشایش یافت.


احمد جاوید رسولی رئیس عمومی اداره ملی احصائیه و معلومات در این مراسم گفت که با ایجاد این مرکز، پروسه زمانگیر و پیچیده تائیدی تذکره‌های کاغذی، نهایت ساده شده است و متقاضیان می توانند با مراجعه به این مرکز، تذکره‌های خود را در کمترین زمان ممکن تائید کنند .

رسولی افزود: «از آنجایی که حکومتداری الکترونیکی یکی از اهداف راهبردی حکومت افغانستان می‌باشد، اداره ملی احصائیه و معلومات، آرشیف ثبت احوال نفوس را دیجیتلی ساخته و زمینه خدمات ساده را برای شهروندان ایجاد کرده است تا با استفاده از این نوع خدمات در زمان کمتر و با سرعت بیشتر تذکره‌های کاغذی شهروندان را تائید نماید».

وی خاطرنشان کرد که این روند؛ بروکراسی حاکم، فساد اداری و کمیشنکاری‌های اطراف روند تائیدی تذکره‌های کاغذی را از بین می برد.

## ژوند

## امیدوارې مېرمنې دې ډېر کچالو نه خوري



امریکایي ډاکټران وایي، ښځې باید د حمل پر مهال د کچالو له ډېر خوراکه ځانونه وساتي؛ ځکه چې د اونۍ په اکثرو ورځو کچالو یا چپس خوراک د شکرې پیدا کولو ستونزې ډېروي. د برېټانیې طبي ژورنال لیکلي، چې د ۲۱۰۰۰ حامله ښځو معاینه یې کړې، چې ډېری یې د حمل پر مهال د کچالو خوړلو له امله پر شکرې اخته شوې دي. د برېټانیې خوراکي مشورو اداري دا نه دي ویلي، چې اونۍ کې باید څومره کچالو وخوړل شي، خو حاملو ښځو ته یې سپارښتنه دا ده، چې د کچالو په خوړو کې ډېر احتیاط وکړي.

د طبي کارپوهانو په وینا، کچالو په وینه کې خواږه په ډېره چټکتیا خپروي، د حمل پر مهال د بدن اړتیاوې زیاتې وي او په ځینو حامله ښځو کې دغه وخت د شکرې پیدا کېدو چانس ډېر وي. د حمل پر مهال پیدا شوې شکرې ناروغي ژر ورکېږي، مګر د مور او ماشوم پر روغتیا اوږدمهالې اغېزې لرلی شي.

د معلوماتو له مخې، ښځې باید په خپل ژوند او په ځانګړې توګه د حمل پر مهال خپل وزن مناسب وساتي، معتدل خواږه وخوري او په فزیکي توګه فعاله ښځه د شکرې له ګواښه خوندي وي.

## د موخې او هیلې تر منځ توپیر



د هرې لاسته راوړنې بنسټ لومړی فکر کول دي؛ کله چې د یوه شي په اړه فکر کوی، احساس به ورسره پیدا کړی، کله چې یې په اړه ډېر احساس وکړی، په اقدام لاس پورې کوی او هغه دي چې په پایله کې به یې لاسته راوړی. نو کله چې غواړی معلومه نتیجه لاسته راوړی، ښه ده چې د ځان لپاره معلومه موخه وټاکئ.

خو که یوازې (فکر) وکړی او (احساس) ولری، خو اقدام ونه کړی، نو تاسو یوازې هیله لری او بس؛ خو کله چې غواړی هدف ته د رسېدو مسوولیت پر خپله غاړه اخلی او عملي اقدام کوی، هغه وخت بیا تاسو د هدف درلودونکي یئ.

کېدای شي ووایاست: زما هدف دا و چې په کانکور کې بریالی شم، درس مې ولوست، مطالعه مې وکړه، خو بیا هم بریالی نه شوم. زه وایم دغه هدف ته درسېدو مسوولیت ستا پر خپله غاړه و، د دې پر ځای چې ګیلې او فریادونه وکړې او له خپله بخته نالښت وکړې، هغه لارې چارې باید ولټوې او په ګوته یې کړې چې څه ډول درس باید ولولم، څو په کانکور کې بریالی شم.